# 2018

# Mix Mesala



Ketabton.com

masoodsohilzai12@gmail.com

Civil Engineering different parts info

(c) ketabton.com: The Digital Library



# STRUCTURE PART

**سیول انجینری: د سائنس د علم په رڼا کي ټول هغه کارونه چي د معماري په مقصد پرمخ ځي که هغه زیربنائي وي او که غیر زیربنائي وي لکه لوي لاري، ډیم، تونل، ساختمان او داسي نور ټول عبارت دی له سیول انجینري څخه**

میخانیکي خواص د موادو مقاومت ښي کله چه پري وزن عمل وکړي د میخانیکي خواصو پواسطه کولاي شو د موادو د تغیر شکل (deformation) او کلکوالي (stiffness) اندازه وټاکو دلته مقاومت (strength) مونږ ته اعظمي وزن په یوه سطحه باندي را په ګوته کوي کوم چه د tension, compression, shear, flexure, torsion او یا ضربي په شکل عمل کوی دا د یاداشت وړ خبره ده کله چه په موادو مختلف وزنونه په جمعي شکل عمل وکړي نو په نتیجه کی مختلفي کششي او تاړژني قواوي مینځ ته راځي لکه کله چی په یو بیم باندي قوه عمل وکړي نو په بیم کی د torsion, moment, shear force, bending په عین مقطع کی عمل کوی پدی اساس کله چه د یوی مقطع لپاره مواد انتخابوو باید ټولو قواو د دفعي قابلیت ولري د موادو د تغیر شکل ظرفیت د هغوي په ایلاستکي خاصیت (elastic modulus) پوري اړه لري باید د موادو د انتخاب څخه مخکی د نوموړي خاصیت وکتل شی سربیره پردی نور خواص لکه brittleness, plasticity, ductility هم په تغیر شکل کی ډیر مهم رول لري.

---

د موادو کیمیاوی خواص د هغوی د داخلي جوړښت او عکس العملونو پوري اړه لري د موادو په کیمیاوی جوړښت باندی چاپیریال ډیره اغیزه لري نو پدي اساس د هري منطقي لپاره جدا او بیل بیل مواد انتخابیري هغه مهم کیمیاوی خواص چه د موادو په انتخاب کی مهم رول لري عبارت دی له acidity, alkanity, resistance to corrosion د کیمیاوي فزیکی او میخانیکي خواصو سربیره نور مشخصاتو لکه acoustical, magnetic, electrical, thermal, optical څخه عبارت دی.

---

**Strain :** کله چی یو جسم د خارجي قوي د تاثیر له امله په طول کی تغیر وکړي د خطي تغیر (linear deformation) په نامه یاریږي چی نوموړي تغیر شکل په فی واحد د طول کی د strain په نامه یادیږي. نو پدی اساس strain د جسم د اصلي طول (L) او د تغیر شکل طول (e) تر منځ یو نسبت دی چی په ($\acute{e}$) ښودل کیږي $\acute{e} = \frac{e}{L}$

---

مثال: که چیرته یو 3in اوږد ربړ د خارجي قوي د تاثیر څخه ئي طول 4in ته وغزیږي تاسي ئي تغیر شکل او strain لاسته راوړي؟

$$\acute{e} = \frac{3in}{4in} => 0.75in$$

---

که چیرته یو قوه یا فشار مستقیما وارد شی منځ ته راغلی تغیر د خطي تغیر په نامه دی او که چیر ته قوه غوڅونکی ( shear force) وارد شی نو بیا غوڅونکی ستراین (shear strain) د غوڅونکی تغیر شکل څخه دی په فی واحد طول کی چی د غوڅونکی قوي په جهت باندی عمود وی کله چی یو جسم باندی اکسلي فشارونه وارد شی (tensile/compression) کوم تغیر شکل چی منځ ته راځی په یو جهت باندی نه وی بلکه په مختلفو جهتونو باندی عمل کوی یعني تغیر شکل هم په طول او هم په عرض کی منځ ته راځی نو پدی اساس طولي تغیر نسبت عرضي تغیر ته د (poison ratio) په نامه یادیږي د زیاترو ساختماني موادو poison ratio د 0.5 او 0.15 تر منځ وی که چیرته تغیر شکل د جسم په حجم کی وی نو بیا تغیر شکل د حجمي تغیر شکل (volume deformation) په نامه یادیږي حجمي تغیر شکل په فی واحد د حجم کی د حجمی ستراین (volume strain) په نامه یادیږي.

---

**Stress:** د خارجي قواو له اثره چی د ساختمان په داخل کی کوم تشنجات رامینځته کیږي هغي ته stress وائي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$stress = \frac{P}{A}$$

**Axle stress:** اکسلي فشار د جسم د محور په طول کی عمل کوی او که چیرته نوموړي قوه په کششي ډول عمل وکړي د tensile stress په نامه یادیږي او که چیرته نوموړي قوه کمپریسلي ډول عمل وکړی د compressive stress په نامه یادیږي

**Shear stress:** غوڅونکی فشار د داسي قوي پواسطه منځ ته راځي چه د جسم یوه زره پر بله وهی او د عمودی قطع سره موازېا عمل کوی مګر ټنسلي او کمپریسلي قواوي عموداً عمل کوی. هغه خارجی قوه چه bending او flexure stress باعث ګرځی په بیمونو او اجسامو کی bending moment منځ ته راوړي.

د فشار (pressure) او تشنج (stress) تر منځ فرق:

فشار د جسم په خارجي برخه عمل کوی او تشنج د جسم په داخلي برخه عمل کوی

**دتشنج ډولونه:**

**Tensile stress:** کششي تشنج


که چیرته یو جسم د دواړو خواو څخه د مساوی او مخالف جهته قوو پواسطه کش کړای شی نو جسم د اوږدیدو میلان پیدا کوي یعني هغه تشنج چی د جسم په مقطع کی رامینځته کیږي د کششي تشنج په نوم یادیږي او کوم نسبي بدلون چی د جسم په طول کی رامینځته کیږي (tensile strain) په نامه یادیږي پدی حالت کی د جسم عرضي مقطع کوچني کیږي.

**Compressive stress:** فشاري تشنج

که چیري یو جسم له دواړو خواو څخه د مساوي او مخالف جهته قوو پواسطه زور کړاي شی نو جسم د لنډیدو میلان پیدا کوی یعني هغه تشنج چی د جسم په عرضي مقطع کی رامینځته کیږي د فشاري تشنج په نوم یادیږي او د شکل کوم نسبي بدلون چی د جسم په طول کی رامینځته کیږي (compressive stress) په نامه یادیږي چي په نتیجه کی د جسم عرضي مقطع لوییږي.

د T ډوله بیمونو په اړه خپل معلومات ولیکي او هم وویاست چی په کوم حالت کی د یو بیم ډیزاین د T په شکل او په کوم حالت کی د L په شکل تر سره کیږي؟


که چیرته د سلب برخه د بیم سره فشاري قوو په زغملو کی کومک وکړي نو نوموړي بیم د T بیم په نوم یادیږي کله چی T ماډل ګاډر جوړه وه لومړی Girder بیا Beam او وروسته Slabs کانکریټ اچول کیږي.




نومړی سلب خپل وزن په بیم اچوی او بیم خپل وزن لوي ګاډر (Girder) ته او بلاخره ټول وارده بارونه column ته انتقالیږي او یا هم ویلي شو چه پایه باندی تکیه کوی او همدارنګه کولای شو چی په یو ریخت ډول جوړ کړو او یا بیل بیل ... که د فشاری بلاک اندازه د hf څخه یوي وی نو T-beam په څیر محاسبه کیږي او که فشاري بلاک کوچني وی بیا د L بیم په شکل محاسبه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**T-beam spacing:** T ډوله ګاډرونو د مرکزونو تر منځ فاصله ده چې په عام ډول سره په کانکریټي سلب سیستم کې د T ډوله ګاډرونو تر منځ فاصله ثابته وی.

**T-beam tributary width:** T ډوله ګاډرونو د مرکزونو ترمنځ د دوو نژدې فاصلو منځني اوږدوالي دی او داسی باید تصویر شی چی د باریدنی عرض هغه عرض دی چی بار د T ډوله ګاډرونو له پاسه تکیه کوی

**T-beam tributary area:** هغه ساحه چی د هغی ټول بار په T ډوله ګاډر تکیه کیږي.

د پوښښ سیستم هر T ډوله ګاډر دوه فاصلي اوبو د باریدني عرض لري که چیري دا فاصلي په یوه یا مساوي اندازه وی نو د باریدني عرض فاصله هم سره مساوي اندازه وی.

د T ډوله ګاډر فعاله مقطعه: د ګاډر هغه د نني عرضي مقطع ده چی د بیروني قوو په وړاندي مقاومت کوي.

په فعاله مقطع کی لاندي اصطلاح ګاني موجودی دی:

**Web/stem** وتلې برخه یا تنه: د T ډوله ګاډر د عرضي مقطعي عمودي برخه ده

**Flange** طاقچه: د T ډوله ګاډر د عرضي مقطعي افقي برخه ده چی د T ډوله ګاډر او کانکریټي پوښښ تختي تر منځ عمودي ساحه تشکیلوي.

**L-beam:** هغه ګاډر چی د پوښښ تخته ورسره یو ځاي یا یوازي یو لوري ته واقع وی L بیم نومیږي.

---

سوال:20 عدد سیخ قطر 12 ملي تبدیل کنید؟

$$N_1 = \emptyset 20mm => 20N$$

$$N_2 = \emptyset 12mm => \ \ ?$$

$$N_1 * \frac{\pi\, d^2}{4} = N_2 * \frac{\pi\, d^2}{4}$$

$$\left(\frac{4}{\pi}\right) * 20 * \frac{\pi\, 20^2}{4} = N_2 * \frac{\pi\, 12^2}{4} * \left(\frac{4}{\pi}\right)$$

$$20 * 20^2 = N_2 * 12^2$$

$$N_2 = \frac{20 * 20^2}{12^2} => \frac{8000}{144} => 55.56 => 56N$$ عدد

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال:د پلچک د سلب یوه تخته چې په هغه کې سیخان ($18mm@125mm\ c/c415fy$)ورکړل شوي دي تاسو د نومړي په عوض 12mm سیخان استعمال کړي نو اوس وښائي چې ددي د سیخانو تر منځ به څومره فاصله وي لکه (12mm@? c/c320fy)...... ؟

$$d_1 = 18mm@125mm\ c/c\ 415fy$$

$$d_2 = 12mm@\ ?\quad c/c\quad 320\ fy$$

$$d_1 * C_1 * f_1 = d_2 * C_2 * f_2$$

$$C_2 = \frac{d_1 *\ C_1 *\ f_1}{d_2 *\ f_2}$$

$$C_2 = \frac{18 * 125 * 415}{12 * 320} = 243mm$$

$$d_2 = 12mm@\ \ 243mm\quad c/c\quad 320\ fy$$

---

د سلب د سیخانو ځاي کولو د پاره دوه جالي په پام کی نیول کیږی .........Reinforcement

لومړی :Main Rebery

دا سیخان د کړیدني (انحنائي)مومنت د مقاومت د پاره ځاي په ځاي کیږي چه د بنسټیزي یا اساسي سیخبندي په نامه یادیږي او لنډ لوري ته ځاي په ځاي کیږي. نوټ: په دوه اړخیزسلبونو (two way slab) کی دواړه لورو ته سیخان اساسي دي.

دوهم: Secondary shrinkage

دا ډول سیخان د دویمي جالي په نامه یادیږي چی باالمقابل یا متقاطع لوري کی ځاي کیږي او د تودوخی او انقباض سیخان هم ورته ویل کیږي د حرارت له امله چه کوم شرنکیج رامینځته کیږي ددي د پاره دا سیخان اچول کیږي .یعني اوږده لوري ته اچول کیږي.

---

**:Shrinkage** په دوه ډوله دی.

الف:plastic Shrinkage کله چی تازه کانکریتو څخه اوبه تبخیر شي د اوبو د تبخیر په نتیجه کی کانکریټ ناسته کوي چې همدي ناستي ته پلاستکي انقباض ویل کیږي.

ب:Drying Shrinkage کله چی کانکریټو ته اوبه ورکول شروع شي ددي وخت څخه د ساختمان تر عمره پوري چی کوم شرنکیج رامینځته کیږي همدي ته وچ انقباض وائي په اول کی 90% وچ انقباض رامینځته کیږي.

**Difference between power and energy:**

انرژي: د کار کولو قابلیت ته وائي. **E=**(قوه)f x (فاصله) d

قوه: هغه عامل دي چي په یوه جسم عمل کوي او هغه جسم د خپل ځایه بي ځایه کوي. A(تعجیل)m x(کتله)**F=**

---

په سنکاري کي د % (30-35) مصاله په نظر کی نیول کیږي او په خښتکاري کی د %(25-28) مصاله په نظر کی نیول کیږي........... اوس غواړو چی په دیوال کی د خښتو او سیمنټو مقدار په لاس راوړوو.

$$wall\ Vallume = 5m * 3m * 0.35 = 5.25m^3$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$Mortar\ Vallume = 5.25m^3\ * 0.28 = 1.47m^3$$

$$Net\ Wall\ Vallume = 5.25m^3 - 1.47m^3 = 3.78m^3$$

$$one\ brick\ Vallume = 0.22m * 0.11m * 0.07m = 0.001694m^3$$

$$in\ one\ cub\ meter\ number\ of\ bricks = \frac{1m^3}{0.001694m^3} = 590N$$

$$total\ bricks = 3.78m^3 * 590 = 2230.2N$$

$$waste\ of\ bricks = 3\%$$

$$= 2230.2 * 0.03 => 67$$

$$Grand\ total\ bricks = 2230 + 67 \cong 2300N$$

---

اوس هغه مصاله چی مونږه په دیوال کی کارولي ده ددي د شګو او سیمنټو اندازه پیدا کوو .

$$Vallume\ of\ Mortar = 1.47m^3$$

$$M100 = 1{:}3$$

$$Cement = \frac{\frac{1.47m^3}{4} * 1 * 1.52}{1440\frac{kg}{m^3}} = 806.4kg/50kg = 16\ bag\ of\ cement$$

$$Sand = \frac{\frac{1.47m^3}{4} * 3 * 1.52}{3m^3} = 0.56\ trak \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots..almost\ semi\ trak\ sand$$

---

د کانکریټو څخه تر هغه وخته پوري مراقبت وشي تر څو کانکریټ خپل 70% مقاومت حاصل کړي د کانکریټو د مراقبت موده نظر د سیمنټو ډول ته د ASTM کوډ په اساس لاندي ډول ده.

1- ASTM C150 ………………………………………Type I Cement 7 day
2- ASTM C150………………………………………Type II Cement 10days
3- ASTM C150…………………………………………Type III Cement 3days
4- ASTM C150…………………………………………Type IV or V Cement 14days

---

**Scales:** مقیاس د جسم یا یوه ساختمان رسم شوي اندازه او د جسم حقیقي اندازي تناسب څخه عبارت دی یا په بل عبارت د جسم خطي او طبعي اندازي نسبت ته وائي.

$$M = \frac{l}{L} = \frac{\text{د جسم یا یو ساختمان رسم شوي اندازه}}{\text{د جسم حقیقي اندازه}}$$

په عمومي ډول مقیاسونه په دري ډوله دي.

-1 طبعي مقیاسونه (full size) …… ……………. 1:1

(c) ketabton.com: The Digital Library



2- لویوونګي مقیاسونه (Reduction)................... 2:1
3- کوچني کوونکي مقیاسونه (Enlargement) ........ 1:2

تهداب ها به چند نوع است؟.................................تهداب ها به سه نوع است.

1- تهداب های میخي یا ستوني
2- تهداب های فیته ئي
3- تهداب های فرشي

تهدابونه د ساختماني موادو له مخی په څلور ډوله دي.

1- ډبرین تهدابونه
2- ډبرین کانکریټي تهدابونه
3- کانکریټي تهدابونه
4- اهنګ کانکریټي تهدابونه

د تهدابونو اساس هم په څلور ډوله دی.

1- ډبرین اساسونه
2- جعل داره اساسونه
3- شګلین اساسونه
4- خاورین اساسونه

---

د تعمیر په بدنه کی څلور ډوله دیوالونو څخه استفاده کیږي.

1- وزن برداره دیوالونه
2- پارټیشن وال
3- زوند دیوالونه (هغه دیوالونه چی د پایو پواسطه د تعمیر وزن انتقالوي لکه(کمان شکله دیوالونه)
4- شیروال (shear wall)

د ودانیو د ساختمان تخریب د زلزلي قوي له نظره په دري ډوله ده.

اول: خفیفه تخریب دوهم: متوسط تخریب دریم: قوي(شدید) تخریب

په یو تعمیر کی اماکن په دری ډوله دی ...

اول: اساسي اماکن (اطاقونه)

دوهم: ارتباطي اماکن (زیني او لیفټ)

دریم: کومکي اماکن (تشنابونه او اشپزخاني)

---

زیني په دري قسمه دي.

اول: اساسي زیني دوهم: فرعي زیني دریم: فراري زیني

---


زیني عموما په دوه ډوله ځایونو کی جوړیږي. (کټاري ارتفاع (0.75→1m) او سټیپونه ئي د 12 څخه زیات نشي).


1- Public building 2- Residential building


(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| Riser = (12→15) cm | Riser = (15→18) cm |
| Tread = (25→30) cm | Tread = (22→25) cm |
| Wide of stair = (180→200) cm | Wide of stair = (80→100) cm |



$$\frac{\pi.(\frac{d}{8})^2}{4}$$ ● د سیخ د مقطع د معلومولو د پاره د نوموړي فرمول نه استفاده کیږي....

د سیخ نمبر # موږ ته د سیخانو قطر ، مقطع او وزن ښيي او همدارنګه د ګرید پواسطه مقاومت معلومیږي. مثلا 40 ګریده سیخ ددې معنی داده چې نوموړي سیخ 40000psi مقاومت لري.

د سیخ قطر په دې طریقه پیدا کیږي.................... .... $\left(\frac{\#.d}{8}\right) * (2.54cm) * (10mm)$

د یو متر سیخ د وزن د پیدا کولو د پاره د لاندې فرمولونو څخه استفاده کیږي.

$$W = \frac{d^2}{36} * 0.222 ==> {}^{kg}/_{m}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$W = \frac{d^2}{162.162}$$

$$W = d^2 * 0.0062$$

په عامه مسکوني ودانيو کی موږ ډیزاین نه تر سره کوو بلکی د column د مقطع یو فیصد په نظر کی نیول کیږي.

فرضاً : $N/bar = \frac{0.25*0.30}{0.01} = 7.5 \cong 8$ مطلب دا چی 25 په 30 سانتيو کی چی دا مقطع ده پدی کی 8 دانی سیخان اچول کیږي ......................

په سلبونو کی #3 نمبره چی تقریبا 10mm کیږي او #4 نمبره چی تریبا (12.7~13)mm سیخان کیږي استعمالیږي او په بیمانو کی #6 نمبرو څخه پورته سیخان استعمالیږي چی تقریبا (16~20)mm پوري رسیږي.

او همدارنګه د slabs او foundation د پاره باید (2500~3000)psi کانکریټ په نظر کی ونیول شي.........

---

کانکریټو مارکونه او د اوبو او سیمنټو نسبتونه (w/c).......

$M300$ ===> 1:1:1.5 ===> 0.45

$M250$ ===> 1:1:2 ===> 0.50

$M200$ ===> 1:1.5:3 ===> 0.52

$M150$ ===> 1:2:4 ===> 0.70

$M100$ ===> 1:3:6 ===> 0.78

$M75$ ===> 1:4:8 ===> 0.9

$M50$ ===> 1:5:10 ===>

نوټ: کله چی مونږه وغواړو چی د 300 مارکو او یا ددي څخه لوړ مارک کانکریټ تولید کړو نو بیا Admixture ته ضرورت لرو چی ورعلاوه ئي کړو ........

---

مثال: که چیرته 300 مارکه کانکریټ تولیدول غواړو او پدي کی 20 بوجی سیمنټ استعمال شی نو څومره اوبو ته به ضرورت وي.

$MARK = 300M$

$Cement = 20\ bag$

$W/_C = 0.45$

$Water\ = ?$

$W = 0.45 * 20 * 50 = 450kg \approx 450lit$

نوټ: د اوبو حجمي کثافت 1000 kg/m$^3$

---

کله چی مونږه وغواړو $lb/_{in^2}$ واحد $kg/_{cm^2}$ ته تبدیل کړو نو د 0.07 سره ئي ضربوو . لکه په لاندی ډو ل................

$$6000psi = 6000 * 0.07 = 420\ kg/_{cm^2}$$

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کانکریټو کی باید د coarse Aggregate د غټي داني سایز د لاندی دري شرایطو په نظر کی نیولو سره انتخاب شی.

1- د قالب د دوه مخونو تر منځ د فاصلی د $\frac{1}{5}$ برخی څخه سایز لوي نشي ..

2- د کانکریټو د ضخامت د $\frac{1}{3}$ برخی څخه سایز لوي نشي.

3- د سیخانو تر منځ د فاصلی د $\frac{3}{4}$ برخی څخه سایز لوي نشی.


---

د ډیزاین طریقي :

1- Working stress design method
   a. Elastic design method
   b. Permissible design method
2- Limit state design method
3- Ultimate strength design method
   a. Load and resistance factor design method (**LRFD**)


---

د کانکریټو کششي مقاومت په دریو طریقو پیدا کیری .




1- Flexural tensile strength : شلیدني یا ویجاړیدني موډل

$$f_r = \frac{P_{max}.L}{b.h^2}$$



2- Splitting tensile strength : چوونکی کششي مقاومت

$$f_c = \frac{2.P_{max}}{\pi.d.L}$$



3- Direct tensile strength: مستقیم کششي مقاومت

$$f_c = 56.\sqrt{f_{\acute{c}}}$$

---

**At ultimate loads**

کله چی د load اندازه نوره هم زیاته کړل شی داخلی تشنجات خپل اعظمي ټاکل شوي لمیټ ته رسیږي او په دوه ډوله ماتیدنه منځ ته راځي.

اول : که چیري مناسب اندازه سیخ کارول شوي وي سیخان به د کانکریټو څخه مخکی ایلډنګ وکړی دا ډول ماتیدنه ډیره ښه وي او tensile control failure په نامه یادیږي د ACI کوډ له مخی دا ډول ماتیدنه د ساختمانونو د ماتیدو څخه مخکي د احطیاطي تدابیرو اخطار ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم : که چیري د سیخ اندازه ډیره زیاته وي د کانکریټو تشنجات د سیخانو ایلډنګ څخه مخکی خپل اعظمي حد ته رسیږي او کانکریټ بیدون د څه اخطاره ماتیږي کوم چی brittle failure دی او دي ډول ماتیدني ته compression controlled failure ویل کیږي ..

---

Serviceabilityپه دوه اساسي فکتورونو اغیزمینه کیږي...

الف: cracks ب: deflection د: fire protection هم کیداي شي.

ساختماني مواد عموما په دوه ډوله ویشل شوي دي.

اول : Ductile (پلاستکي مواد) دوهم : Brittle (شیشه ئي مواد )

---

ساختماني مواد نظر دغه لاندی خصوصیاتو ته انتخابیږي .

1- قوت او د وزن انتقال
2- مدت
3- ښکلا او منظره
4- قیمت او موجودیت
5- د چاپیریال اغیزه

---

سیمنټ د جوزف اسپیډن لمړني انګریز وه چی په 1824 کی د خاوري او اهکي ډبرو ته حرارت ورکړو او د پارټلنډ سیمنټ ئي منځ ته راوړل .

---

د سیمنټو پروسس په څو مرحلو کی صورت نیسي؟ ....................اول: Dry دوهم: Wet

---

ANSI: American National Standard Institute (New yark)

NFPI: National Forest production Association (Washington)

PCA: Portland cement association (England)

PCI: American concrete institute (Farmington Hills)

AISC: American institute of steel construction (Chicago)

ASTM: American society of testing and materials (west Conshohocken)

---

د سیمنټو کیمیاوی ، صنعتي نومونه او نور مشخصات:

| مرکب | کیمیاوي فورمول | صنعتي کوډ | د سلني اندازه | د اوبو سره د عکس العمل اندازه |
|---|---|---|---|---|
| Tri calcium silicate | 3Cao $Sio_2$ | $C_3$ S | 35 – 65 | Medium |
| Di Calcium silicate | 2Cao $Sio_2$ | $C_2$ S | 15 – 40 | Slow |
| Tri calcium aluminate | 3Cao $Al_2O_3$ | $C_3$ A | 0 – 15 | Fast |
| Tetra calcium aluminate | 4Cao $Al_2O_3$ $Fe_2O_3$ | $C_4$ AF | 6 – 20 | Medium |

(c) ketabton.com: The Digital Library




مصالي (mortar) څلور ډوله دی نظر مقاومت ته

1- Type M
2- Type S
3- Type N
4- Type O


**Slump:** سلمپ ټسټ د کانکریټو د نرموالي د اندازه کولو څخه عبارت دی چی د کانکریټو په مخلوط کی د اوبو مقدار معلوموي.

سلمپ ټسټ په دري قسمه دی.




د سلمپ اندازي:

| Recommended slumps for various type of construction | | |
|---|---|---|
| Type of construction | Max slump | Mini slump |
| Reinforced foundation walls and footing | 3" (7.5cm) | 1" (2.5cm) |
| Plain footing , caissons sub structure wall | 3" (7.5cm) | 1" (2.5cm) |
| Beam and reinforced walls | 4" (10cm) | 1" (2.5cm) |
| Building columns | 4" (10cm) | 1" (2.5cm) |
| Pavements and slabs | 3" (7.5cm) | 1" (2.5cm) |
| Mass concrete | 2" (5cm) | 1" (2.5cm) |




د سلمپ ټسټ د لوښي اندازی:

نوموړي لوښی د مخروط په شکل دی چی برني اندازه یی 4in او قاعده یی 8in او ارتفاع یی 12in ده او د tamping rod اندازه یی 24in ده چی په دري layer کی ور کی مواد اچول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیمنټو اندازه د پیدا کولو طریقه:

$$\left.\begin{aligned} &{}^{w}/_{c} = 0.5 \\ &W = 180\ {}^{lb}/_{yd^3} \\ &C_q = cement\ quantity \end{aligned}\right\}$$

$$C_q = \frac{W}{{}^{w}/_{c}} = \frac{180\ {}^{lb}/_{yd^3}}{0.5} = 360$$

$$= \frac{360}{2.2} = 163.63kg$$

$$= {}^{163.63\ kg}/_{50\ kg} = 3.3\ bag$$

---

**ګډونکي مواد (Admixture) عموماً په دوه ډوله دي.**

1- Chemical Admixture (کیمیاوي دواګاني)
 i. Air-entraining admixtures
 ii. Water-reducing admixtures
 iii. Retarding admixtures
 iv. Accelerating admixtures
 v. Super plasticizers admixtures
 vi. Corrosion-inhibiting admixtures
 vii. Shrinkage-reducers admixtures

2- Mineral Admixture (منرالي دواګاني)
 i. Fly Ash

First: Class C Second: Class F

 ii. Silica fume
 iii. Ground granulated blast furnace slag

دواګاني نظر د سیمنټو اندازي ته استعمالیږي یعني که سیمنټ زیات وي نو دوا کمه او که سیمنټ کم وی نو دوا زیاته استعمالیږي یعني که $1m^2$ ساحه کی 100kg سیمنټ استعمال شی نو پدی کی 0.2% دوا اچول کیږي.

$$\frac{0.2}{100} = 0.002 * 1000gr = 2gr$$

---

په کانکریټو کی عموما څلور ډوله سیخان استعمالیږي چي عبارت دی له

1- A615(billet steel, Deformed and plain bars)راخی لرونکي سیخان دی زیات استعمال لري
2- A616(Rail steel, Deformed and plain bars)
3- A617(Axle steel)اکسل سیخ نرم سیخان دی چی د کشش په مقابل کی زیات مقاومت لري او استعمالیږي
4- A706(low-alloy steel bars)

اوسپني حجمي وزن ($7850\ kg/m^3$)


---

لمړي ځل د پاره د خښتي استعمال په مصر کی وه او وروسته په یونان کی پیل شو ددی نا وروسته بیا په روم کی د خښتي سټندرد شروع شو او تر اوسه پوري په مختلفو سټندردونو خښتي استعمالیږي.چی د خښتی هغه سټندرد سایزچی په افغانستان کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعماليږي(22*11*7)cm دی.چی دا په حقیقت کی هندي سټنډرد دی.او همدارنګه هغه دیوال حجمي وزن چی پخه خښته ، ریګ او سیمنټ پکی استعمال شوي وی $1800\ {kg}/{m^3}$ دی او د پخي خښتي حجمي وزن $1600 - 1900\ {kg}/{m^3}$ دی.




عموما خښتي په څلور ډوله دی کوم چی په ساختمان کی استعمالیږي

1- Building bricks (د معماري خښتي)
2- Facing bricks (د ښکلا خښتي)
3- Floor bricks (د فرشونو خښتي)
4- Paving bricks (د پیاده رونو خښتي)

---

د ودانیو خښتي په دریو کټګوریو یا درجو ویشل شوي دی چی نظر مدت ته ټاکل کیږي.

1- Grade SW ( زیات مقاومت)
2- Grade MW (اوسط مقاومت)
3- Grade NW (هیڅ مقاومت)

---

Facing bricks: معمولا په دري ډوله تولیدیږي کوم چی د لیدو د فکتورونو په اساس تعینیږي.

1- Type FBS (سټنډرد خښتي)
2- Type FBX (ځانګړي خښتي)
3- Type FBA(مهندسي خښتي)

---

د خښتي سټنډرد رنګ په دوه ډوله دی.

1- Terra Cotta
2- Brownish Orange

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خښتي کثافت یا وزن د ختي د مخصوصه جاذبیت (specific gravity) د جوړیدو طرز او د پخولو د درجی پوري اړه لري د ختي مخصوصه جاذبیت معمولا د (2.6→2.8) تر منځ وی همدارنگه د پخولو څخه وروسته د نوموړو موادو کثافت معمولا $1600kg/m^3$ وي چی اوسط اندازه ئي $2000kg/m^3$ ده.

پرته د کړوپیدني (Deflection) د پیدا کولو څخه د RCC گاډرونو اصغري ضخامت پیدا کول.

| Member-عنصر | Simple supported | One end continues | Both end continues | Cantilever |
|---|---|---|---|---|
| Beam - گاډر | $L/_{16}$ | $L/_{18.5}$ | $L/_{21}$ | $L/_{8}$ |

او د لاندی جدول څخه د پوښښونو ضخامت اخستل کیږي چی بیا کړوپیدني یا خمیده گي محاسبي ته اړتیا نه لیدل کیږي.

| Member- عنصر | ساده اتکا، لرونکی | یو لوري ته ادامه لرونکي | دواړو لوري ته ادامه لرونکي | کانټلیور |
|---|---|---|---|---|
| One way slab – یو اړخیز پوښښ | $L/_{20}$ | $L/_{24}$ | $L/_{28}$ | $L/_{10}$ |

**Deflection**

1- Short term deflection (نوموړي خمش د لوډ له وجی رامنځته کیږي)
2- Long term deflection (نوموړي کړوپیدنه د کریپ او شرنکیج له وجی رامینځته کیږي)

اوږد مهاله کړوپیدنه متاثره کوونکي عوامل په لاندی ډول دی.

1- تودوخه
2- نمي یا رطوبت
3- عمر
4- د فشاري سیخانو مقدار
5- ترائي

**Bending Moment:** د ټولو مومنټونو الجبري مجموعي څخه عبارت دي کوم چي د مقطع په ښي او چپ طرف کی واقع کیږي

**Shear force:** د هغه غیر متوازني عمودي قوي څخه عبارت ده چه د مقطع په ښي او چپ طرف کي واقع کیږي.

د یو کانکریټي عنصر د وزن پیرا کولو فرمول : $W = \gamma * (a.b) * L * n$

Bending Moment د څه شي له امله منځته راځي؟

1- د ایلاستکی خاصیت پوري مربوط دی
2- د زیات اوږد والي له امله
3- د جسم د خپل وزن له امله

**عرضی قوه:** د مقطعي ښي لوری ته ټولي هغه قوي چی جهت ئي ښکته وی په مقطع کی مثبته عرضي قوه تولیدوی او چی جهت ئي پورته وی منفي عرضي قوه تولیدي وی په عمومی ډول ویلای شو چی په مقطع کی هغه عرضي قوه چی جسم ته د ساعت د عقربی مطابق دوران ورکړی مثبته او هغه چی د ساعت عقربي خلاف ورته دوران ورکړی منفي ګڼل کیږي

کوږوالي مومنټ: په یوه مقطع کی د کوږوالي مومنټ دی که بیم داسی کوږ کړي چی پورته خواته مقعرشی له بله پلوه د کوږوالي مومنټ منفي دی که چیري بیم داسی کوږ کړي چی پورته خواته محدب شی.

گاډر : هغه ساختماني عنصر څخه عبارت دی کوم چی په کوږوالی یا انخنا، کی فعالیت تر سره کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$b/_a > 2 \;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots. one\ way\ slab$$

$$b/_a < 2 \;\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots two\ way\ slab$$

اتکا، ګاني په دري ډوله دی :

1- Roller support متحرکه
2- Fixed support سخته
3- Hinge support ساکنه

د بیمونو ډولونه نظر اتکا،ګانو ته په څلور ډوله دی.

1- Simply support beam
2- Cantilever beam
3- Fixed support beam
4- Continuous beam

د تحلیل او ډیزاین تر منځ توپیر:

تحلیل د قوو اغیزه ده د ساختمان په مختلفو برخو باندی او ډیزاین د قواؤ له امله چی کوم تشنجات رامینځته کیږي ددی په اقتصادي ډول له مینځه وړلو د پاره د مناسبو موادو ، ابعادو ، مقطعو او د سیخانو د قطرونو ټاکل دی .

Structureڅه ته وائي؟

ساختمان عبارت د هغه وصل شوو برخو څخه دی کوم چی یو خاص هدف ولري او وارده بارونه په منظم توګه تهداب ته انتقال کړي لکه تعمیر پل ډیم .........

نوټ: کله چی سلب او ګاډر کانکریټ یو ځاي اچول کیږی دی ته monolithic construction وائي.

Load/ بار: هغه یو خارجی عامل (external agent) دی چی ساختمان حالت کی تغیر راوړي .......او په دری ډوله دی

**1- Dead load**

مړ یا دایمی بار هغه بار څخه عبارت دی چی د هغه موقعیت او مقدار ثابت وی لکه self-weight

A=self-load

B=S.D.L (super imposed dead load)

**2- Live load**

ژوندی بار د هغه بار څخه عبارت دی چه د هغي په موقیعت او مقدار کی تغیر راځي لکه د انسانانو او اعراده جاتو وزن.

**3- Environmental load**

دا د هغه بار څخه عبارت دی چی د محیط له امله ساختمان اغیزمند کوی لکه .... snow-load, wind-load, EQ-load

Requirement of design: د ډیزاین اړتیاوي

1- Safety(حفاظت)


(c) ketabton.com: The Digital Library



2- Architecture(مهندسي)
3- Serviceability(بهره برداري يا ګټه اخستنه)
4- Economy(اقتصادي)
5- Environment(چاپيريال)

Simply supported beam and cantilever beam (دواړه معين ساختمانونه دی)
Fixed supported beam and continues beam (دواړه نامعين ساختمانونه دی)

**د معين او نامعين فرقونه**




**هميشه د پاره منفي مومنت اتكاء ته نژدي منځ ته راځي.**

1- نامعين کی اعظمي مومنت $PL/_8$ او معين کی اعظمي مومنت $PL/_4$ دی يعنی نامعين نظر معين ته کم اعظمي مومنت لري.
2- كه چيرته په عين ابعادو، وزن ، مقطع لرونکی معين او نامعين ساختمان باندي عين وزن وارد شي نو نامعين زياتي محاسبي ته ضرورت لري او معين بيدون د کومی محاسبی حليږي .
3- د نامعين ستاتيکي ساختمانونو ابعاد نظر معين ساختمانونو ته ډير کوچني وی لکه




4- د نامعين ستاتيکی ساختمان د جوړښت مصارف نظر معين ساختمان ته ډير زيات وی.

Hinge supportedمومنټ نه لري مثبت مومنټ د پاره neutral axis (NA) غيرفعال محور لاندی کشش پيدا کيږي او همدارنګه مثبت مومنټ د پاره سيخ لاندی اچول کيږي او منفي مومنټ کی کشش پاس پيدا کيږي نو سيخ هم پاس اچول کيږي

د مومنټ ويشني ميتود: د اورډيدني ميتودونو څخه يوه دی او په څو منزله او څو وائي لرونکي چوکاټونو کی تري ډير په اساني او چټکتيا استفاده کيږي نوموړي ميتود په کال 1930 ميلادي کی د هارډی کراس لخوا اخذ شوي او همدارنګه کيني ميتود په کال 1947 ميلادي کی د پروفيسور کسپرکني کوم چی د المان اوسيدونکی وه مينځه راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پارتلیند سیمنټو مهم ډولونه چی هر یو ئي په خاصو شرایطو کی کارول کیږي په لاندی ډول دی .**

Type-I cement: په عادي ودانیو کی کارول کیږي.

Type-II cement: په عادی ودانیو کی چی د هایدریشن د زیاتي تودوخي تولیدول مطلوب وی کارول کیږي.

Type-III cement: په لنډه موده کی اعظمي مقاومت ته رسیږي.

Type-IV cement: هغه وخت کارول کیږي چی د هایدریشن د کمي تودوخي تولیدول غوښتنه وي.

Type-V cement: هغه وخت کارول کیږي چی د سلفیټو په مقابل کی زیات مقاومت غوښتنه وي.

---

د یوي 50kg کاغذي بوجي سیمنټو حجم $1/_{30}\,m^3$ ده نو د منک (مناک) اندازه د یوي بوجي د پاره $(0.30X0.30X0.37)m^3$ ده.او چی پدی اندازه کی 10 litter اوبه ځایږي

د کانکریټو د اچولو په وخت کی باید د تودوخی درجه له 4C° څخه کمه او تر 21C° څخه لوړه نه وي.

---

**بعد از انتخاب سیستم قالب نوبت به طراحی قالب می رسد، گام های اساسی در طراحی قالب عبارتند از:**

1. طرحی عمومی و هندسه قالب
2. تعین بار های وارده
3. محاسبات استاتیکی و تغیر شکلی
4. تهیه جزییات و نقشه های ساخت

---

مصالح متداول برای ساخت قالب عبارتند از:

1. چوب
2. الومینیوم
3. فایبر گلاس
4. ورق های فولادی و نیمرخ های سبک فولاد

---

انواع چوب:

چوب در انواع زیر مورد استفاده قرار می گیرد:

1. الوار و چهارتراش(تخته)
2. تخته لایه (چند لایه ، پلی وود)
3. نیوپان
4. فیبر

---

بار های که لازم است در طراحی قالب مورد توجه قرار گیرند:

1. بار مرده
2. بار زنده
3. وزن بتن و ارماتور
4. فشار جانبی بتن

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



انواع قالب های فونداسیون

قالب فونداسیون می تواند به یکی از انواع زیر باشد:

1. قالب سنتی از تخته و چهارتراش
2. قالب با رویه چند لایی وپشت بند های چوبی، فلزی و الومینیومی
3. قالب فلزی

---

قالب های قایم قالب های هستند که از انها برای قالب بندی دیوار و ستون استفاده می شود.

اجزای قالب قایم (مثلا قالب دیوار) عبارتند از:

1. صفحه رویه (sheeting)
2. پشت بند قایم (stud)
3. پشت بند افقی یا کمرکش (wale)
4. بولت (tie)
5. وادار (brace)
6. فاصله دهنده (spreader)

---

اجزای قالب فونداسیون

اجزای اصلی قالب فونداسیون به شرح زیر می باشد:

1. رویه
2. پشت بند
3. وادار
4. فاصله د هنده (سیم)

---

قالب ستون همانند قالب دیوار در رده قالب های قایم است لذا هما نند ان می تواند دارای انواع زیر باشد:

1. قالب سنتی
2. قالب پانلی
3. قالب یکپارچه
4. قالب بالا رونده
5. قالب لغزنده

- قالب خشتی.
- قالب چوبی.
- قالب فلزی.
- قالب ازمواد کیمیاوی (فایبر گیلاس – پلی ایتلین وغیره.)
- قالب های رونده ویا لغزنده.

---

انواع مختلف جک های مورد استفاده در قالب های لغزنده عبارتند از:

1. هیدرولیکی
2. هوایی فشرده
3. الکتریکی
4. دستی

---

قالب های مورد استفاده در پل بتن ارمه شامل موارد زیر می باشد:

قالب فونداسیون ، قالب ستون ، قالب تیر سرستون ، قالب های عرشه


(c) ketabton.com: The Digital Library



د مختلفو غړو د پاره د قالبونو د خلاصیدو لږ تر لږ او معمول وختونه:

| د غړو ډولونه | د قالب د لرې کولو لږ وخت | د قالبونو د لرې کولو معمول وخت |
|---|---|---|
| Columns | 3Days | 3Days |
| Slab | 5Days | 10Days |
| Beam | 5Days | 14Days |
| ګاډرونه چې اوږدوالی ئې له 6m څخه تر 9m پورې وی قالبونه وروسته له 21 ورځو لیرې کیږی او که چیرې له 9m څخه زیات وی قالبونه ئې وروسته له 28 ورځو جلا کیږی . | | |

---




د ستندرد کانکریتو فشاري نمونه

---

د ډیزاین د پاره ډیري طریقی شته خو دغه دوه یکی زیات استعمال لري.

WSD (working stress method)   د تشنجاتو د کاریدنی طریقه:

$$F_{service} \leq F_{allowed}$$

**$F_{service}$**: د ګتي اخستني یا خدمت کولو د شرایطو لاندي اعظمي تشنجات دی

**$F_{allowed}$**: مجازي تشنجات دی چی د ګتي اخستني یا خدمت کولو د شرایطو لاندی د اوسپنز کانکریتو له پاره د کوډ پواسطه مشخصیږي

LRFD (load and resistance factors design method):  د بار او مقاومت فکتورونو د محاسبي طریقه

$$\emptyset Rn \geq \text{U}$$

ØRn: د ظرفیت یا مقاومت د کمیدني ضریب دی د نه اټکل شویو بارونو د څرنګوالی د پاره کاریږي.

U: د نهائي یا اعظمي عاملو او وارده بار دی.

نو ټ : دا طریقه وائي چی داخلی مقاومت باید د خارجی مقاومت څخه زیات وی .

---

د ستنو (پایو) ډولونه:

**1- Based on reinforcements  نظر سیخانو ته کالم:**

a. Tied column   ترى ستني

b. Spiral column   مارپيچي ستني

c. Composite column   مرکب ستني

**2- Based on shop : نظر شکل ته کالم**

a. Rectangular column   مستطیلي ستني

b. Square column   مربعي ستني

(c) ketabton.com: The Digital Library



c. Circular column دايروي ستني

**3- Based on loads: نظر بار ته ستني**

a. Concentric column هيچ نواع مومنټ نه لري فقط نارملی فشاري قوه پري عمل کوی

b. Uniaxial column چی په يو محور کی مومنټ ولري

c. Biaxial column چی په دوه محورونو کی مومنټ ولري

**4- Based on length : نظر وائي ته کالم**

a. Short column هغه پائي ده چی مقاومت ئي د موادو او د عرضي مقطع د هندسي شکل پواسطه کنټروليږي

b. Slender column د زيات اوږدوالي له اثره پکی د اړخی کوږوالي(بکالنګ) منځ ته راځي

---

**د رڼا سټنډرد اندازي:**

- ✓ Living room = 350 lux
- ✓ Toilet, shower, latrine, wash room, corridor and stair way, dining area = 200 lux
- ✓ Mechanical, electrical room, office(open), conference room = 300 lux
- ✓ Office(private), video conference = 500 lux
- ✓ Kitchen(commercial) = 700 lux
- ✓ Library = 300 – 500 lux
- ✓ Auditorium(social) = 50 lux
- ✓ Auditorium(assembly) = 10 lux

---

**د ګروپونو د تعداد د معلومولو فرمول:**

$$No\ of\ Light = \frac{E.A.M_f}{{}^{lumen}/_{lamp} \cdot {}^{lamp}/_{unit} \cdot U_z}$$

E = light intensity (Lux)

A = area ($m^2$)

$M_f$ = maintenance factor (- 1.2)

$U_z$ = utilization factor (- 0.55)

---

Example:

Dining room =?

L= 8m

W= 5m

E= 200 Lux

$$\frac{lumen}{lamp} = 3000$$

N/ light =?

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$N/L = \frac{200 * (8 * 5) * 1.2}{3000 * 1 * 0.55} = 5.8 \approx 6\ lights$$

یعني شپږ پنځوس واټه ګروپو ته ضرورت دی 3000/60=50 watt

6*50 = 300 watt: یعني مجموعا 300 watt برق ته ضرورت شته تر څو اطاق په ښه ډول رڼا شي. اوس موږ کولای شو چې 3 دانی 100 watt ګروپونه استعمال کړو او یا یوه دانه 300 watt ګروپ استعمال کړو.

---

د موقعیت له لحاظه فرشونه په کومو ډولونو ویشل شوی معرفی کړي؟ په درې ډولونو

1- Ground floor
2- Suspended floor
3- Basement floor

د ځمکی په سطحه د فرشونو ډولونه ولیکي ؟

هغه فرشونه چه د ځمکی په مخ جوړیږي او د مختلفو تعمیراتو د پاره ورڅخه استفاده کیږي هغه دادي..........

خټو فرشونه، خښتي فرشونه، کاشي فرشونه، د ډبرو فرشونه، سیمنټي فرشونه، تراځوي فرشونه، موزائیک فرشونه، لرګین فرشونه، لینولم فرشونه(یو ډول پلاستکی ټوکر دی)، رابري فرشونه، د نرمو لرګیو فرشونه، اسفالتي فرشونه، شیشائي فرشونه او پي وي سي(PVC) فرشونه

---

Floor او Roof څه ته وایي او د لرګیو د پوښښونو عمده نواقص ولیکي؟

Floor فرش ته وایي او Roof چت ته وایي او همدارنګه د لرګیو نواقص دا دی چې لرګی باید وچ وساتل شی او رطوبت یی د 20% څخه زیات نه شی او د مخصوصو رنګونو پواسطه رنګ کړی شی او همدارنګه د حریق په مقابل کی هم مقاومت نه لري

---

د اهن کانکریټو پوښښونو مثبتي او منفي جنبي ولیکي؟

**مثبتي جنبي:** الف: لوړ مقاومت لري. ب: اور په مقابل کی زیات مقاومت لري. ج: رطوبت او مضره حشراتو پواسطه نه خرابیږي.

**منفي جنبي:** الف: زیات وزن لري. ب: حرارت زیات انتقالوي.

---

د تعمیراتو د پاره د زلزلی ضد مهندسي تدابیر ولیکي؟

1- زلزلي ضد مهندسي تدابیر
   - ✓ د تعمیراتو پلان ساده، مربع او یا مستطیل شکل ولري.
   - ✓ د تعمیراتو طول د نورماتیفي حدودو څخه زیات نه وی.
   - ✓ د تعمیراتو ارتفاعات په نظر کی نیول دی.
2- د زلزلي ضد محاسبوي تدابیر

---

د تولنې د ضرورت د رفعه کولو په خاطر وداني په دوه ډوله دسته بندي شوي دی.

1- مدني وداني
   - ✓ مسکوني وداني
     الف: کرکاسی وداني
     ب: غیر کرکاسی وداني

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ عامه وداني
- 2- صنعتي وداني

---

د عامه ودانيو د اماکنو د ضرورت وړ مساحتونه د نورم له مخې:

1- کنفرانس او سينما په صالون کی د يو نفر د پاره $m^2$ (0.8→1) پوري ځای ورکول کيږي.
2- رستورانت او د مطالعي صالون کی د يو نفر د پاره $m^2$ (1→1.5)
3- په ښوونځيو او لوړو تحصيلاتو په صنف کی د يو نفر د پاره $m^2$ (1.25→1.5)
4- د مهندسينو اطاق کی د فی نفر د پاره $5m^2$ پوري ځای ورکول کيږي.
5- د اداري دفترونو کی د فی نفر مامور د پاره $(3→3.5)m^2$
6- په دهليزونو او زينو کی چی خلک منظم حرکت کوی د فی نفر د پاره $m^2$ (0.5→0.6)
7- شفاخانو کی د فی نفر مريض د پاره $m^2$ (6.5→7)

---

کله چی مونږ سيمنټ ذخيره کوو نو بايد د سيمنتو بوجی د ځمکي څخه 10cm لوړه وی يعني ارتفاع ولري او په هر قطار کی بايد د (12—10) بوجيو څخه زياتي اينودو ته اجازه نشته.

**د کانکريټو خواص:** اول = مقاومت دوهم = د کانکريټو دوام دريم = دکانکريټوکاری قابليت

---

کله چی کانکريټو کی د اوبو فيصدي زياتيږي نو دده مارک ضعيفه کيږي نو چی مارک ئي ضعيفه شو نو مقاومت ئي کميږي او همدارنګه د کانکريټ ريزي په وخت کی بايد د هوا درجه (25 c°—20) پوري وی.

---

**سولنګ(soling) چيست؟**

وقتيکه زير تهداب نرم وخراب باشد قبل از ريختن کانکريټ تهداب يک لايه خشت بدون مصاله و يا سنګ فرش ميشود وبعد بالای ان کانکريټ ريخته ميشود که همين فرش بنام سولنګ يا د ميګردد

---

سوال:په سلبونو کی د سيخ اغطمي او ماصغري فاصله څومره ده ؟

د سيخانو تر منځ اعظمي 20cm او اصغري فاصله ئي 1.5cm ده.

عموما په سلبونو او پايو کی د 200M او 250M مارکه کانکريټو څخه استفاده کيږي او په فرشونو کی د 150M مارکه کانکريټو څخه استفاده کيږي.

سوال: cycle of project يا دوران عمومي کار يک پروژه را نام بګيريد؟

پلان، سروي، نقشه، ډيزاين، براورد، تطبيق پروژه او تسليمي پروژه.

سوال: زلزله په تعمير باندی څو قيسمه قوي واردوي او ساختمان په کومه برخه باندي عمل کوي.

زلزله په تعمير باندي دوه قيسمه قوي واردوی عمودي او افقي او په ګاډر او پايو باندي عمل کوی.


سوال: په ساختمان کی حرارتي درز د څه په خاطر ورکول کيږي؟

نوموړی درز د انقباض او انبساط په خاطر ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال: خنثی محور( neutral axis (NA په ګادر کی څه شی دی ؟




سوال: د ساحوي انجینر وظیفه څه شی ده؟

د پلان شوي نقشي تطبیق او ددي د کارونو څخه راپور ورکول دی مربوطه اداري ته

سوال: کله چی خط اندازي کوو او یو کنج په 90° باندی جوړه وه نو د کوم فورمول څخه استفاده کیږي؟

د فثاغورث د قیضي له مخی ...... $r^2 = a^2 + b^2$

سوال: مارک څه شی دی؟

د محکمیت حد دی د فشار په مقابل کی .

کانکریټ د فشاري قواو په مقابل کی زیات مقاومت لري او سیخ د کششي قواو په مقابل کی زیات مقاومت لري.

سوال: په یو سلب کی د سیخانو ترمنځ فاصله د څه شی تابع ده؟

د سیخانو د قطر تابع ده.

سوال: یو متر مکعب کانکریټ څومره اوبو ته ضرورت لري؟

تقریبا litter(165---177) پوري .

سوال: ګژدمک دکومي قوي په مقابل کی عمل تر سره کوی ؟

د عرضي قوي په مقابل کی .

سوال: ساختماني مواد په څو قیسمه دی؟

په دوه قیسمه دی او ل ......طبعي او دوهم.......مصنوعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال: دکانکریټو په مخلوطو کی اوبه څه وظیفه لري؟

1- دکانکریټو لمدول
2- کاري قابلیت ورکول
3- په سیمنټو کی کیمیاوی عمل چټک کول

سوال: په هغه مناطقو کی چی ریګ ولري څه قیسم تهداب باید جوړ شی؟

میخي تهداب

سوال: مخکي ددي چي یو پلان په ساحه کی تطبیق شی څه باید وکړل شی؟

د ساحی پاک کاري، د خاوري ټیسټ، هموار کاري ساحه

سوال: مساحت تهداب ها تابع چیست؟

مقاومت نورماتیفي خاک

سوال: په پایه او ګاډر کی څومره سیخان لګیري او هم په یو متر مربع سلب کی څومره سیخان پکاردی؟

په بیم او پائي کی څلور داني سیخان باید استعمال شی او همدارنګه په نوموړیو پایو او بیمانو کی د 16mm څخه کم قطر لرونکی سیخان استعمال نشی. او حداقل په سلب کی پنځه داني سیخان واچول شی چی پدی کی د 3# او 4# نمبره سیخان استعمالیږي.

سوال: د کانکریټو په مخلوط کی اوبه د څه شی تابع دی؟

دکانکریټو د مارک تابع دی.

سوال: به طور عموم میل به چند نوع است نام گرفته ومیل مجاز سرک در کوتل ها، تپه ها و بلندي ها چند فیصد محاسبه می گردد؟

به طور عموم چهار نوع میل وجود دارد که عبارتند از .......

1- میل نشیبي (ښکتني)
2- میل بلندي (برني)
3- میل طولي (اوږد والي)
4- میل عرضي (پلنوالي)

میل مجاز سرک در کوتل ها، تپه ها و بلندي ها حداقل 3% و حد اعظمي 7% می باشد.

سوال: د اکسل لوډ مجازي حد په سرکونو باندي څومره محاسبه کیږي؟

د افغانستان په سرکونو باندي اکسل لوډ 12ton دی چی د فواید عامي وزارت اخوا ټاکل شوی دی .

